ISSUE 85 JUNE 2024

# خانه نو نوی کور
# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا کې د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It’s reported and written by Hussain Ali Haidari.




Photo Credit: Mozhgan Hussaini

# په مینه‌سوټا کې لوی اختر؛
# په سلګونو افغانان سره راټول شول

- راتلونکي ماشومان په مینه‌سوټا کې افغان ټولنه پیاوړې کوي
- د ماشومانو سالمه تفریح د کورنیو لپاره ترټولو مهمه مسله ده
- سره راټولیدل د کور څخه د لرې کیدو درد او غم کموي

Illustrator Credit: CVT

## په مینه‌سوټا کې لوی اختر؛ په سلګونو افغانان سره راټول شول

په مینه‌سوټا کې د افغانستان کلتوري مرکز د یکشنبې په ماښام د جون په ۱۶مه په دغه ایالت کې د څه باندې ۳۰۰ افغانانو په حضور سره د لوی اختر لمانځنه وکړه. د دغه مرکز مشرې نسرین سجادي وویل چې د اختر لمانځل یې د خوښۍ له پروګرامونو څخه دي. هغه زیاته کړه: «کله چې تاسو ګورئ چې د ټولنې بیلابیل غړي د یوه چتر لاندې راټولیږي او د افغانستان بډایه کلتور ننداري ته وړاندې کوي، د خوښۍ وړ موضوع ده «سربیره پردې، دا په ځانګړې توګه د خوښۍ وړ خبره ده چې ماشومان په خپلو منځونو کې سره لیدل کیږي یو د بل سره شناخته کیږي او ملګري کیږي چې دغه چاره ددې لامل ګرځي چې ده چې لیدل کیږي چې په مینه‌سوټا کې د افغان ټولنې راتلونکې پیاوړې کوي.» په دې پروګرام کې د قرانکریم تلاوت، د ماشومانو سندرې او د لویانو تر منځ پوښتنې او ځوابونه شامل وو. د مینه‌سوټا له نږدې او لرې ښارونو څخه کسان پدې برنامه کې یې ګډون کړی وه. ددغه کسانو له ډلې څخه یو هم امان الله صفدري وه چې د خپلو ماشومانو او میرمنې سره په دغه پرګرام کې د ګډون په هدف راغلی وه. صفدري له شاوخوا شپږو میاشتو راهیسې له افغانستان څخه مینه‌سوټا ته راغلی دی. هغه وویل چې له شپږو میاشتو وروسته دا لومړی ځل دی چې په مینه‌سوټا کې د افغانانو یوه لویه ډله ویني. امان‌الله صفدري د مینه‌سوټا په سینټ لوئس پارک کې ژوند کوي. د هغه په وینا، د دا ډول پروګرامونو په جوړولو سره به له وطن څخه د لرې کېدو درد او غم کم شي او کورنیو ته به دا زمینه برابره شي، چې یو بل وپیژني او له یو بل سره اړیکې ونیسي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

**ادامه ...**

په تېرو شپږو میاشتو کې د صفدري کورنۍ د خپل ورور له کورنۍ پرته په مینه‌سوټا کې له کومې بلې افغانې کورنۍ سره اړیکه نه ده نیولې. د هغه په وینا، دا شپږ میاشتې د ده لپاره ډېرې سختې وې، ځکه له خپلې ټولنې او وطن څخه لرې و او دلته یې هم څوک نه پېژني. د مهمو کلتوري مراسمو د نمانځلو ترڅنګ، د افغان کلتوري مرکز پروګرامونه کورنۍ یو بل سره پیژني. افغان کلتوري مرکز له دریو کلونو راهیسې په مینه‌سوټا کې لوی اختر لمانځي. ۲۸ کلن صدیق‌الله عظیمي له خپلې مېرمنې او دوو ماشومانو سره په دغه پروګرام کې ګډون کړی و. عظیمي وایي، چې له درېیو کلونو راهیسې په دې پروګرام کې ګډون کوي. د هغه په وینا، په دغه ایالت کې ډېر کم فرهنګي پروګرامونه کېږي، خو افغان کلتوري مرکز د اختر او مهمو فرهنګي مراسمو د نمانځلو لپاره ښه پروګرامونه لري. عظیمي زیاته کړه، چې کورنۍ د څو ساعتونو لپاره دلته راټولېږي او ښه وخت تېروي. د لویی اختر په مناسبت پروګرام کې د ماشومانو لپاره بېلابېل تفریحات هم ترتیب شوي وو. ډېری کورنۍ د ماشومانو له پروګرام څخه راضي وې. مژګان چې له خپلو دوو ماشومانو سره یې په دغه پروګرام کې برخه اخیستې وه، وویل چې د ماشومانو لپاره مناسب تفریح دوی ته په پروګرام کې له خپلو ملګرو سره د خبرو کولو ښه زمینه برابره کړه. د هغه په وینا، د ماشومانو سالمه تفریح د کورنیو لپاره تر ټولو مهمه موضوع ده. مژګان یادونه وکړه چې د اختر او مهم کلتوري مناسبتونو لمانځل ماشومان د خپل وطن له کلتور سره اشنا کوي. شاوخوا دوه نیمې میاشتې وړاندې افغان کلتوري مرکز هم د کوچني اختر لمانځنه وکړه. په دې پروګرام کې سلګونو افغانانو برخه اخیستې وه. په مینه‌سوټا کې د افغان کلتوري مرکز یو له هغو څو مرکزونو څخه دی چې په دغه ایالت کې د افغانانو تر ټولو کلتوري پروګرامونه جوړه وي او ویاړ یې لري.